مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۰/۰۴/۱۷

# د عبرت درس

چي ګل رژيږي، دا ژوره خبرتيا ده
د دانا د پاره، لويه انتباه ده

د خپل حال په ژبه هر کله، ګل وايي
چي دنيا په خپله ذات کي لکه ما ده

د عبرت په نظر، ځير که زما په حال شئ
نو به پوه شئ، چي دنيا هم بی وفا ده

حال می وګورئ، په ځان باندی بيدار شئ
چي زما په شاني، ستاسو هم سزا ده

دا خندا چی می خوله باندی، ښکاريږي
عبرت بين د پاره بل شانی ژړا ده

چی په حال مي، نيکبختانو، نظر کړی
لا تر اوسه يي، په ځان باندی سودا ده

د عبرت درسونه زما له عمره واخلئ
چي يوه خندا، د ټول ژوندون بقا ده

دې چمن کي کله ـ کله سوچ په کار دی
تفکر په تياره زړه باندی، رڼا ده

کال ۱۳۷۰پيښاور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ